# په سید جمال‌الدین افغان پوهنتون-کونړ کې د بریښنایي زده‌کړو د تطبیق پر وړاندې ستونزې او فرصتونه

**پوهنیار امان الله توتاخېل**

د سافتویر انجینرنګ ډیپارتمنت، د کمپیوټرساینس پوهنځی، د پکتیکا پوهنتون، پکتیکا، افغانستان
ایمیل: Amanullah.tutakhail@gamil.com

**لنډیز**

په تعلیمي مرکزونو کې د بریښنایي زده کړو پلې کول یوه غوره تګلاره ده ځکه چې د بریښنایي زده کړو په وسیله د زده کړو ښه زمینه‌سازی کیږي. ددې څېړنیز اثر په وسیله په سیدجمال الدین افغان پوهنتون کې د بریښنایي زده کړو د تطبیق پروړاندې شته خنډونه او فرصتونه ارزول شوی. د ډیټا په راټولولوکې دهدفي اوتصادفي میتودونوڅخه کاراخیستل شوي او د سروې په بڼه د پوښتنلیکونو او انټرویګانو په اساس ډیټا راټوله شوي. د یادې سروې د موندنو څخه دا جوتیږي چې د بریښنایي زده کړو د تطبیق په برخه کې یو لړستونزې او فرصتونه شتون لري او همدا راز د بریښنایي زده کړو غوره تطبیق لپاره سپارښتنې او حل لارې وړاندی شوی کوم چې د پوهنتون او وزارت رهبرۍ سره به په تصمیم نیونه کې مرسته وکړي.

**کلیدې اصطلاحات**: تعلیمي سکتور، سیدجمال الدین افغان پوهنتون، بریښنایي زده کړې، ستونزې، فرصتونه، حل لار

# Challenges and opportunities for the implementation of e-learning at Syed Jamaluddin Afghani University-Kunar

**Jr. Teaching Asst. Amanullah Totakhail**

Department of Software Engineering, Faculty of Computer Science, Paktika Higher Education University, Paktika, Afghanistan
Email: Amanullah.Tutakhail@gmail.com

**Abstract**

E-learning is recognized as a valuable strategy for enhancing the educational sector, creating an enriched learning environment. This research focuses on evaluating the challenges and opportunities associated with implementing e-learning at Syed Jamaluddin Afghani University. Data was collected through purposive and random sampling methods, utilizing questionnaires and interviews. The findings highlight specific challenges and opportunities within the e-learning implementation. The study proposes recommendations and solutions to facilitate effective e-learning integration, supporting informed decision-making for university leadership and the Ministry of Higher Education.

**Keywords:** Educational Sector; Sayed Jamaluddin Afghani University; e-Learning; Challenges; Opportunities; Solution

**سریزه**

د تکنالوژۍ پرمختګ په ډیرو برخو کې په لویه کچه اسانتیاوې رامینځ ته کړي چې ددې جملې څخه یې یوه هم تعلیمي برخه ده هغه ځکه چې تکنالوژۍ د تدریس بڼه تغیر کړې زده کوونکې او استادان یې سره جلا کړي او د مختلفو سافټویرونو او تکنالوژیو څخه د ګټې اخیستنې په وسیله درسي مواد او نظریات سره شریک کوي (Mahmud & Gope, 2009). ډیرو پرمختللو او مخ پرودې هیوادونو په علمې مرکزونو کې بریښنایي زده کړې تطبیق کړي او خپلو هېوادوالو ته یې ګڼې اسانتیاوې رامینځ ته کړي ترڅو هر شخص وکولای شي هروخت او له هرځایه خپلو زده کړو ته دوام ورکړي(Aslam et al., 2021) (Moakofhi et al., 2017) دا چې په هېواد کې هم تکنالوژي د پرمختګ په حال کې ده او په مختلفو برخو کې د چارو ترسره کولو په پار ګټه ترې اخستل کیږي ولې څرنګه چې لازم وه تراوسه په تعلیمي برخه کې ترې مؤثره ګټه نده اخیستل شوې. دا چې ډیری هیوادوال مو د زده کړو د دوام لیوالتیا لري ولې د ځینو محدودیتونو اوستونزو له امله نشي کولای په حضوری بڼه ټولګي ته حاضر شي اوخپلو زده کړو ته دوام ورکړي دوې لیواله وي ترڅو پرته له فزیکي شتون څخه له هرځایه خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. بنآ بریښنایی زده کړې د زده کړو پراختیا په برخه کې نوښتګر او اغیزمنه تګلاره ده کوم چې پورته ذکر شوي محدودیتونه له مینځه وړي او ډیرې اسانتیاوې یې رامنځته کړی دبیلګې په ډول: انلاین ویډیو چټ، زده کونکو لپاره په انلاین بڼه په ټولګي کې د ګډون اسانتیا، درسي موادو ته هروخت او له هرځایه لاسرسی (Almutairi, 2017).

د بریښنایي زده کړو پیژندنه: په ښوونیزه برخه کې د تکنالوژۍ په وسیله د درسي موادو شریکولو ته بریښنایي زده کړې ویل کیږی(Rana & Lal, 2014). بریښنایي زده کړې هغه ځانګړې تګلاره ده کوم چې پرمټ یې کولای شو د وخت اوځای له هررنګه محدودیتونو پرته درسي مواد سره شریک کړو(Qureshi et al., 2012). بریښنایي زده کړی په دوه ډولو ویشل شوي(Aldowah et al., 2015) :

همغږی بریښنایي زده کړې Synchronous: دا هغه ډول بریښنایې زده کړې دې کوم چې زده کوونکي باید په ټاکلی وخت کې له هرځایه په انلاین بڼه په ټولګي کې ګډون وکړي او له استاد سره د تدریس په وخت کې برخه واخلي.

نه همغږی بریښنایي زده کړې Asynchronous: دا هغه ډول بریښنایي زده کړې دي کوم چې ټاکلی وخت ته اړتیا نلري زده کوونکي کولای شي هروخت او له هرځایه خپل مواد ترلاسه کړي او اړتیا نشته چې په انلاین ډول په ټاکلي وخت کې په ټولګي کې ګډون وکړي.

### د بریښنایي زده کړو ګټې

لاسرسی: بریښنایي زده کړو زده کونکو ته زمینه مساعد کړې ترڅو په انفرادي ډول خپله مطالعه وکړي او د اړتیا په صورت کې هر وخت او له هرځایه درسې موادو ته لاسرسی ولري(Saay & Norta, 2018). په کم لګښت د موادو شریکول: کله چې یو ځل بریښنایي مواد چمتو شي او سرور کمپیوټر ته پورته شي بیا زده کوونکي او استادان هروخت او له هرځایه ورته لاسرسی لري(Aldowah et al., 2015).

په ځانګړې سیستم پوری د استعمال نه محدودیت: استادان او محصلان کولای شي د هرنوع کمپیوټر او زیرک تلیفونونو په وسیله موادو ته لاسرسی ولري. په داسې یوه ځانګړي سیستم پوری تړاو نلري هر یو شخص کولای شي له هرې ممکنه لارې درسې موادو ته لاسرسی پیدا کړي(Datuk & Ali, 2004).

د تغیرورکولو او پراختیا اسانتیاوې: کله چې یوځل دبریښنایي موادو زیرمه رامینځته شي بیا یې مواد هروخت او په ډیرې اسانۍ تغیر او تبدیل کیدای شي. کله چې موادو کې هرډول تغیرات راشي په ډیرې اسانۍ پرته له کوم اضافه لګښت او هڅو له زده کوونکو او استادانو سره شریک کیدای شي. ددې سربیره پرته لدې چې د زده کړیالانو او استادانو ترمنځ رابطه پری شي کولای شو یاد سیستم او موادو ته پراختیا ورکړو (Moakofhi et al., 2017).

### د ستونزې بیان

په هیواد کې د کرونا وبا دخپریدو سره سم د حضوري زده کړو پرځای نامخامخ/ انلاین زده کړې پیل شوې په داسې حال کې چې تردې مخکې کوم چمتووالی موجود نه وو محصلان او استادان له ګڼو ستونزو سره مخ شول څرنګه چې لازم وو هماغسې په مؤثره توګه بریښنایي زده کړې تطبیق نشوې. کله چې مخ پروډې هیوادونه د تکنالوژۍ په برخه کې نوی مفهوم تطبیق کوي غوره داده ترڅو مخکې له مخکې د هغه د تطبیق لپاره د شته فرصتونو اوخنډونو ارزونه وشي ترڅو په تطبیق کې یې له ستونزو سره مخ نشي.

### د څیړنې پوښتنې

۱. په سید جماالدین افغان پوهنتون کې د بریښنایي زده کړو د تطبیق پروړاندې کومې ستونزې شته؟
۲. په سید جمال الدین افغان پوهنتون کې د بریښنایي زده کړو د تطبیق لپاره کوم فرصتونه شته؟

### د څیړنې شالید

بریښنایي زده کړې د تدریس او زده کړو بهیر د ساده کولو خورا مهمه تګلاره ده چې د زده کړو دودیز بهیر څخه په متفاوته بڼه د تدریس چارې پرمخ وړل کیږي. د دومره اهمیت او ګټو سربیره چې په سریزه کې په تفصیلي بڼه ذکر شوي په تعلیمي برخو کې د بریښنایي زده کړو تطبیق دومره اسانه او ساده کار ندی. ډیری پرمختللي او مخ پروډې هیوادونه په تعلیمي برخو کې د بریښنایي زده کړو په تطبیق کې له

ګڼو ستونزو سره مخ شوي(Aggarwal, 2009). اړونده څیړنې ته په کتو په ځینو هیوادونو کې د برېښنایي زده کړو د تطبیق خنډونه مطالعه کړي.

بنګله دیش هم په خپلو تعلیمي برخو کې د برېښنایي زده کړو د تطبیق هڅه کړې ترڅو د ښوونکو او زده کوونکو ترمنځ د پوهې د لیږد پروسه پراخه او اسانه کړي. ولې د برېښنایي زده کړو په تطبیق کې له ګڼو ستونزو سره مخ شوي د بیلګې په توګه د معلوماتي تکنالوژۍ د سرچینوکمښت، د انټرنټ سرعت کموالی، انلاین سافټویرونو سره دزده کونکو دبلدتیاستونزه، دکمپیوټرسره نه بلدتیا، دبرېښنایي زده کړوپه برخه کې دعامه پوهاوي کموالی، دبرېښنا او ټریننګونوکمووالی(Mahmud & Gope, 2009).

د برېښنایي زده کړو اهمیت ته په کتو پاکستان هم هڅه کړې ترڅو خپلو تعلیمي مرکزونو کې برېښنایي زده کړې تطبیق کړي ولې باوجود د دومره امکاناتو په اقرا پوهنتون کې ترسره شوې څیړنې ته په کتو د برېښنایي زده کړو په تطبیق کې د یو لړستونزو سره مخ شوي دبیلګې په توګه: تخنیکې ستونزې، کمپیوټر ته دلاسرسي اوپوهې کچې ټیټوالی، دانګلیسي ژبې سره نه بلدتیا، د مخامخ زده کړو سره لیوالتیا، د عامه پوهاوي کموالی، محرمیت او خوندیتوب(Qureshi et al., 2012).

همدارنګه په نایجېریا کې د برېښنایي زده کړو پلې کوونکي هم خصوصي او دولتي مرکزونه ول یاد مرکزونه هم د برېښنایي زده کړو په تطبیق کې د یو لړ ستونزو سره مخ ول او یادې ستونزې کولای شي د برېښنایي زده کړو په تطبیق کې لوی خنډ رامنځته کړي د بیلګې په ډول: د عامه پوهاي کموالی، د کمپیوټر د پوهیدو کچې ټیټوالی، د انټرنټ سرعت کموالی، برېښنایي موادو زیربناوي کموالی، د ژبې ستونزه، د انلاین سافټویرونو سره د زده کوونکو نه بلدتیا(Kamba, 2009).

## د څیړنې میتود

نوموړې څیړنه د Case Study په ډول په سیدجمال الدین افغان پوهنتون کې ترسره شوې او یوه تحلیلي کیفي څیړنه ده کوم چې د ډیټا په ترلاسه کولو کې د هدفي او تصادفي میتودونو څخه کار اخیستل شوي. په یاده سروې کې په انلاین بڼه پوښتنلیک چمتو شوی او د یاد پوهنتون له پنځه ګونو پوهنځیو محصلانو، استادانو او کارمندانو سره شریک شوی په یاده سروې کې ۷۰ نفرو ګډون کړی او پوښتنلیکونه یې ځواب کړي. دویم داچې د انټرویو لپاره دموضوع مسلکیتوب ته په کتوکسان مخکې له مخکې مشخص شوي او له هغوی سره د ډیټا په راټولوکې ناستې شوي ترڅو په سمه توګه ستونزې او فرصتونه مشخص شي.


لومړی جدول: د مسلک له مخی د ګډونوالو ویش

| د مسلک له مخې ګډونوال | د ګډونوالو شمیر |
|---|---|
| استادان | ۲۰ |
| اداري او تخنیکي کسان | ۴ |
| زده کړیالان | ۴٦ |
| مجموعه | ۷۰ |

## د څېړنې موندنې

ترلاسه شوې ډېټا مو د فیصد په اساس د اکسیل سافټویر په وسیله تحلیل کړې او په تفصیلي بڼه تشریح شوې. د بریښنایي زده کړو په اړه د ترسره شوې سروې په اساس ۲۱,۴۲ فیصد ګډونوال هیڅ پوهاوی نلري، ۲۸,۵۷ فیصد ګډونوال په ډېره کمه کچه پوهیږي، ۳۸,۵۷ فیصد په اوسط ډول او ۱۱,۴۴ فیصد په زیاته کچه پوهاوی لري. د کمپیوټرسره د بلدتیا په برخه کې ۱۵,۸۵ فیصد هیڅ بلدتیا نلري، ۱۷,۳۱ فیصد په کمه کچه، ۴۱,۸ فیصد په اوسط ډول او ۲۵,۰۴ فیصد په زیاته کچه بلدتیا لري. د بریښنا په هکله د ګډونوالو نظر ۳۱,۴۲ فیصد بریښنا نلري، ۴۴,۲۸ فیصد په کمه کچه بریښنا لري، ۱۷,۱٦ فیصد په اوسط ډول او ۷,۱۴ فیصد په زیاته کچه بریښنا لري.


په یاده سروې کې انټرنټ ته د لاسرسي په باره کې ۵۲,۱۴ فیصد ګډونوال هیڅ لاسرسی نلري، ۲۹,۲۴ فیصد په کمه کچه، ۱۷,۲ فیصد په اوسط ډول او ۱,۴۲ فیصد په زیاته کچه انټرنټ ته لاسرسی لري. د کمپیوټر لیب په اړه ۱۰۰ فیصد ټولو ګډونوالو ویلی چې په خپلو څانګو او پوهنځیو کې کمپیوټرلیب نلرو، په تدریس او زده کړو کې ۳۰ فیصد ګډونوال تکنالوژۍ نه استعمالوی، ۳۰ فیصد ګډونوال یې په کمه کچه استعمالوي، ۲۷,۱۵ فیصد یې په اوسط ډول او ۱۲,۸۵ فیصد په زیاته کچه ټکنالوژی استعمالوي. د برښنایې موادو په اړه د ټولو ګډونوالو ځواب داده چې په بریښنایې بڼه د موادو زیرمه شتون نلري.



| | د برېښنايي موادو شتون | په زده کړه او تدريس کې د تکنالوژۍ استعمال | کمپيوټرليب | انټرنټ ته لاسرسی | برق | کمپيوټر سره بلدتيا | د برېښنايي زده کړو په اړه پوهاوی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نلرو | ١٠٠.٠٠ | ٣٠.٠٠ | ١٠٠.٠٠ | ٥٢.١٤ | ٣١.٤٢ | ١٥.٨٥ | ٢١.٤٢ |
| په ډېره کمه کچه | ٠.٠٠ | ٣٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٢٩.٢٤ | ٤٤.٢٨ | ١٧.٣١ | ٢٨.٥٧ |
| په اوسط ډول | ٠.٠٠ | ٢٧.١٥ | ٠.٠٠ | ١٧.٢٠ | ١٧.١٦ | ٤١.٨٠ | ٣٨.٥٧ |
| زيات | ٠.٠٠ | ١٢.٨٥ | ٠.٠٠ | ١.٤٢ | ٧.١٤ | ٢٥.٠٤ | ١١.٤٤ |

لومړی انځور: په فیصد سره د برېښنايي زده کړو د ستونزو ښوونه

**په سروې کې د ګډونوالو له جملې څخه د انټرنټ سرعت او کارکردګی په اړه ۳۰,۲ فیصده کم ده، ۴۹,۲ فیصده مناسب، ۱۲,۴ فیصده زیات او ۸,۲ فیصده په ډېره زیاته کچه سرعت کار کوي. ددې سربېره د انټرنیټي بنډلونو د نرخونو لوړوالي په اړه ۹۴,۸ فیصده ګدونوالو له نظره نرخونه ډېر لوړ دي او ۵,۲ فیصده ګډونوالو له نظره نرخ لوړ دی.**





| | د انټرنيټي بنډلونو د نرخونو په اړه | د انټرنټ سرعت کارکردګی په اړه |
|---|---|---|
| ډېر زيات | ٩٤.٨ | ٨.٢ |
| زيات | ٥.٢ | ١٢.٤ |
| مناسب | ٠.٠ | ٤٩.٢ |
| کم ده | ٠.٠ | ٣٠.٢ |

دويم انځور: د انټرنيټ سرعت او انټرنيټي بنډلونو د نرخونو څخه د رضايت په اساس د ګدونوالو ويش

**فرصتونه**

د ترلاسه شوي ډیټا څخه دا معلومیږي چې په یاد پوهنتون کې د بریښنایي زده کړو د تطبیق لپاره فرصتونه شته او د بریښنایي زده کړو په تطبیق کې مرسته کولای شي.

په سروې کې د ګډونوالو له جملې څخه یې په زیاته کچه خپل شخصي زیرک تیلفونونه او کمپیوټرونه لري کولای شي زده کوونکي او استادان د بریښنایي زده کړو په تطبیق کې ترې موثره ګټه واخلي.




دریم انځور: د زیرک مبایل او کمپیوټر د لرلو په اساس د ګډونوالو ویش

۱. د پوهنتون په کچه ښه مجهز کمپیوټر لیب چې ټول کمپیوټرونه د انترنټ سره وصل دي شتون لري کوم چې د بریښنایي زده کړو لپاره ډیر موثر تمامیدای شي.

۲. د پوهنتون اکثریت استاذان د بریښنایي زده کړو په برخه کې ښه پوهاوی او ذهنیت لري کولای شي په پوهنتون کې د بریښنایي زده کړو په تطبیق کې مؤثر تمام شي.

**مناقشه**

ددې څیړنیز اثر په وسیله په سیدجماالدین افغان پوهنتون کې دبریښنایي زده کړوپه تطبیق کې شته ستونزې اوفرصتونه مشخص کړي. له موندنو دا جوتیږي چې د بریښنایي زده کړو په تطبیق کې یو لړ ستونزې شتون لري کوم چې د بریښنایي زده کړو په تطبیق کې لوی خنډ رامنځته کوي او همدارنګه د ځینو شته فرصتونو څخه په استفاده د بریښنایي زده کړو په تطبیق کې مرسته وکړي. د بریښنایي زده کړو په اړه په ډیره کمه کچه د ګډونوالو عامه پوهاوی، د بریښنایي زده کړو لپاره په کافي اندازه د زیربناوو او سرچینو (برق، انټرنټ ته لاسرسی او کمپیوټرلیب) نه شتون، په کمه کچه دکمپیوټرسره بلدتیا، د بریښنایي موادو نشتون،

په سیمه کې د انټرنټ کمزورتیا او د انټرنټ بندېدلونو لوړ نرخونه. نوموړې هغه ستونزې دي کوم چې په مؤثره توګه د بریښنايي زده کړو په تطبیق کې لوی خنډونه رامینځ ته کوي.

ددې سربیره د نوموړو ستونزو ترڅنګ یو لړ فرصتونه هم شتون لري کوم چې کولای شي د بریښنايي زده کړو په تطبیق کې مرسته وکړي د یادو موندنوڅخه داجوتیږي چې په سروې کې دګډونوالوڅخه یې ټول خپل شخصي زیرک تیلفونونه او په زیاته کچه خپل کمپیوټرونه او همدارنګه د پوهنتون په کچه یو لوی مجهز کمپیوټر لب چې ټول ۹٦ کمپیوټرونه لري او ټول د انټرنټ سره وصل دي شتون لري.

کله چې وغواړو په موثره توګه یو نوی مفهوم/کانسیپټ تطبیق کړو ترټولو غوره تګلاره داده چې لومړی د هغه په تطبیق کې دشته خنډونو اوفرصتونوارزونه وشي. ددې څیړنیز اثر اهمیت او اړتیا هم په دې کې ده ترڅوپه سیدجمال الدین افغان پوهنتون کې دبریښنايي زده کړوپه تطبیق کې شته ستونزې او فرصتونه تشخیص کړی. ددې سربیره د څیړنې په بشپړولو کې ځینې محدودیتونو شتون درلود د بیلګې په ډول د څیړنې بشپړولو لپاره د کافی وخت نه شتون او په سروی کې د زیاتو کسانونه ګډون که د څیړنې مخینې ته ځیرشو دځینو هیوادونو په تعلیمي مرکزونوکې دبریښنايي زده کړوپه تطبیق کې خنډونه مطالعه شوي او ذکر شوي هیوادونه د بریښنايي زده کړوپه تطبیق کې له ګڼو ستونزوسره مخ شوي. بنګله دیش هیواد دمعلوماتي تکنالوژی د سرچینو کمښت، دانټرنټ سرعت مسله، انلاین پلټفارمونو/ سافټویرونه سره دزده کونکو د بلدتیا ستونزه، دکمپیوټر په کارولوکې ستونزه، دبریښنايي زده کړوپه برخه کې دعامه پوهاوي کموالی، دبرق او ورکشاپونو کموالی(Mahmud & Gope, 2009).

د بریښنايي زده کړو اهمیت ته په کتو پاکستان هم هڅه کړې ترڅو خپلو تعلیمي مرکزونو کې بریښنايي زده کړې تطبیق کړي ولې د دومره امکاناتو باوجود بیایې هم په تطبیق کې دیولړستونزوسره مخ شوي د بیلګی په ډول اقرا پوهنتون کې د ترسره شوې څیړنې په اساس کوم چې له ستونزو سره مخ شوې ول: تخنیکي ستونزې، کمپیوټرته د لاسرسي او پوهې کچې ټیټوالی، د انګلیسی ژبې سره نه بلدتیا، د مخامخ زده کړو لیوالتیا، دعامه پوهاوي کموالی، محرمیت او خوندیتوب(Qureshi et al., 2012).

همدارنګه په مالیزیا هیوادکې دبریښنايي زده کړوپلې کوونکي خصوصي اودولتي انستیټونه ول کوم چې د بریښنايي زده کړو په تطبیق کړی د ګڼو ستونزو سره مخ شوی ول کوم چې په مؤثره توګه د بریښنايي زده کړو په تطبیق کې لوی خنډونه جوړ کړې وو دبیلګې په ډول دعامه پوهاوي کموالی، دکمپیوټر د پوهې کچې ټیټوالی، د انټرنټ سرعت او بریښنايي موادو د زیربناووکموالی، د ژبې ستونزه، د انلاین سافټویرونو سره د زده کوونکو نه بلدتیا (Ali, 2004).

د ترسره شوې څېړنيز اثر له موندنو داجوتيږي چې ترلاسه شوې ستونزې د پورته ذکر شويو هيوادونو له ستونزو سره تر زياته کچه ورته والی لري اوپه مؤثره توگه دبريښنايي زده کړو تطبيق له ننگونو سره مخ کوي. په سيدجمال الدين افغان پوهنتون کې دبريښنايي زده کړو په تطبيق کې د ترسره شوې سروې په اساس جوتيږي چې دبريښنايي زده کړودتطبيق پروړاندې يولړستونزې شتون لري او اړوندستونزې کولای شي د بريښنايي زده کړو په تطبيق کې لوی خنډونه رامنځته کړي. مخکې تردې چې د پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت رهبري په سيدجمال الدين افغان پوهنتون کې په بريالی او مؤثره توگه غواړي بريښنايي زده کړې تطبيق کړي غوره به داوی ترڅو له لاندی ذکر شويو حل لارو څخه گټه پورته کړی او په موثره توگه په ياد پوهنتون کې بريښنايي زده کړی تطبيق کړي او نوموړې حل لارې کولای شی د رهبری سره به په تصميم نيونه کې ډيره مرسته وکړي.

۱. د بريښنايي زده کړوپه برخه کې بايد د اړتيا، اهميت او گټو په اړه سيمينارونه چمتو شي ترڅو د عامه پوهاوي کچه لوړه شي.

۲. د بريښنايي زده کړو په مؤثره تطبيق کې زيربناوې او سرچينې ډير مهم فکتورونه شميرل کيږي د پايداره برق لپاره زمينه سازي وشي او ددې سربيره ټولو زده کړيالانو ته بايد انټرنټ ته د لاسرسي زمينه سازي وشي او همدارنگه هر پوهنځي ته په کافي اندازه د زده کړيالانو تناسب ته په کتو کمپيوټر لب جوړ شي.

۳. په پوهنتون کې دبريښنايي موادونه شتون لويه ننگونه ده او دبريښنايي زده کړو لپاره ټول درسي مواد بايد په بريښنايي بڼه چمتو شي ترڅو زده کړيالان او استادان ورته په اسانی لاسرسی ولري.

۴. په سيدجمال الدين افغان پوهنتون اودگډونوالوپه سيموکې دانټرنټ کمزورتيا اوسم کار نه کول يوه لويه ستونزه ده چې دبريښنايي زده کړوپه تطبيق کې لوی خنډ جوړوي. بايد د اړوند ادارو سره پدې برخه کې موضوع شريکه شي ترڅو په ياده برخه کې د انټرنت د کارکردگی کچه پراخه شي.

۵. د انټرنټ بنډلونو نرخونه ډير لوړ دي په شخصي لگښت گډونوال نشي کولای چې پدې قيمتونو په دوامداره توگه د انټرنت بنډلونه فعاله کړي. رهبري بايد د بريښنايي زده کړودتطبيق څخه د مخه اړوندستونزه له مربوطه مراجعوسره شريکه کړي ترڅو د امکان ترحده رسيده گي ورته وشي.

۶. غوره به داوي چې د مروج درسي بهير ترڅنگ د امکان په صورت کې بريښنايي زده کړې هم پرمخ ويوړل شي. استادان بايد درسي مواد په انلاين بڼه له زده کړيالانو سره شريک کړي، د استاد او زده کړيال ترمينځ ټولې اړيکې بايد په انلاين بڼه پرمخ ولاړي شي.

**سپارښتنې**

په راتلونکې کې باید د زون په کچه هراړخیزه څیړنه وشي ترڅو شته ستونزې او فرصتونه په پراخه کچه په گوته شي او ترهغه وروسته بیا دهیوادپه کچه څیړنې ترسره شي ترڅو په بریالی او مؤثره توگه په تعلیمي مرکزونوکې دبریښنایي زده کړوله تطبیق څخه مستفیدشو. او ددې سربیره بایدپه راتلونکې کې په سیدجمال الدین افغان پوهنتون کې په پراخه کچه څیړنه ترسره شي دهرپوهنځي له هرټولگي څخه نمونه گیري وشي او حد اقل تر ۱۰۰۰ زیاتو کسانو څخه معلومات ترلاسه شي ترڅو په سمه توگه شته ستونزې تشخیص شي.

**پایلې**

دا چې تکنالوژي ورځ تربلې د پرمختگ او بدلون په حال کې ده او دژوند په ټولو برخوکې یې ډیرې اسانتیاوې رامینځته کړي ددې جملې څخه یې یو هم تعلیمی سکتور ده. کله چې په داسې مهم سکتور کې دیونوي کانسیپټ/مفهوم پلی کوو نوغوره داده ترڅو داړوند موضوع لپاره لومړی باید هراړخیزه څیړنه ترسره شي دتطبیق پروړاندې یې شته ستونزې او فرصتونه په ډاگه شي. که چیری دا چاره ترسره نشي نو بیا په راتلونکې کې به له گنو ستونزو سره مخ شي چې بیا به د ننگونو څخه وتل سخت او د جبران وړ نه وي. ددې څیړنیز اثر له موندنو څخه داپه ډاگه جوتیږي چې په سیدجمال الدین افغان پوهنتون کې دبریښنایي زده کړودتطبیق پروړاندی ځینې خنډونه شتون لري. غوره به داوي ترڅو د بریښنایی زده کړو له تطبیق مخکې د امکان ترحده شته ستونزې حل شي او بیا پلی شي. ترهغه چې شته ستونزو ته مناسبه حل لار ونه لټول شی او کچه یې راټیټه نشی د بریښنایي زده کړو تطبیق هیڅ گټه نکوي او په بریالي ډول نشو کولای چې پلی یې کړو. ددې سربیره د شته ستونزو باوجود یو لړ فرصتونه هم شتون لري چې د بریښنایي زده کړو په تطبیق کې مرسته کوي او غوره به داوی چې شته فرصتونو ته په کتو په تدریجي ډول د حضوري زده کړو ترڅنگ بریښنایي زده کړې هم پلی شي ترڅو د بریښنایي زده کړو په اړه یو ښه ذهنیت او عامه پوهاوی رامینځ ته شي.

نوموړې څیړنه د پوهنتون او وزارت له رهبری سره دا مرسته کوي ترڅو ستونزې درک کړي او د اړوند مراجعو سره یې د حل په موخه کوټلي گامونه واخلي او همدرانگه شته ستونزو ته په کتو حل لارې هم وړاندې شي او دا به د رهبری سره په تصمیم نیونه کې پوره مرسته وکړي.

**سرچيني**

Aggarwal, D. (2009). Role of e-Learning in A Developing Country Like India.

Aldowah, H., Ghazal, S., & Muniandy, B. (2015). Issues and Challenges of Using E-Learning in a Yemeni Public University. Indian Journal of Science and Technology. https://doi.org/10.17485/ijst/2015/v8i32/92160

Almutairi, M. M. (2017). A Review of the Potential of Cloud Computing in Education in Saudi Arabia.

Aslam, S. M., Jilani, A. K., Sultana, J., & Almutairi, L. (2021). Feature Evaluation of Emerging E-Learning Systems Using Machine Learning: An Extensive Survey. IEEE Access, 9, 69573–69587. https://doi.org/10.1109/ACCESS.2021.3077663

Datuk, T. S., & Ali, A. (n.d.). ISSUES & CHALLENGES IN IMPLEMENTING E-LEARNING IN MALAYSIA.

Kamba, M. A. (2009). Problems, challenges and benefits of implementing e-learning in Nigerian universities: An empirical study. International Journal of Emerging Technologies in Learning. https://doi.org/10.3991/ijet.v4i1.653

Mahmud, K., & Gope, K. (2009). Challenges of Implementing E-learning for Higher Education in Least Developed Countries: A Case Study on Bangladesh. https://doi.org/10.1109/ICIMT.2009.27

Moakofhi, M., Leteane, O., Phiri, T., Pholele, T., & Sebalatlheng, P. (2017). Challenges of introducing e-learning at Botswana University of Agriculture and Natural Resources: Lecturers' perspective. International Journal of Education and Development Using Information and Communication Technology, 13(2), 4–20.

Qureshi, I. A., Ilyas, K., Yasmin, R., & Whitty, M. (2012). Challenges of implementing e-learning in a Pakistani university. Knowledge Management and E-Learning.

Rana, H., & Lal, M. (2014). E -learning : Issues and Challenges. International Journal of Computer Applications, 97(5), 975–8887. https://doi.org/10.5120/17004-7154